محمد حسن حقیار

2010/02/03

# د امن ملي جرګه باید د امن دښمنانو ته ونه سپارل شي

افغان ولسمشرحامدکرزي دیکشنبې په ورځ چې دلندن له نړیوال کنفرانس څخه له راستنېدلو وروسته یې په لومړي ځل له ژورنالستانو سره ولیدل په همدې ناسته کې اعلان وکړ چې له مخالفینو سره دسولې او تفاهم دجریان دپرمخ وړلولپاره به یو جرګه جوړوي ،نوموړي ددې جرګې دغړیو نومونه او هویت په ډاګه نکړ خو ویې ویل چې دانومونه او اشخاص به ډېرژر اعلان شي.

ښاغلی کرزی دطالبانودمشرملامحمدعمرمجاهداودحزب اسلامي افغانستان له مشر انجنیرګلبدین حکمتیارسره دسولې اوتفاهم لپاره ددې جرګې دجوړېدو اعلان په داسې حال کې کوي چې همدا دوه ورځې وړاندې یې یعنې دپنجشنبې په ورځ چې دسلواغې له اتمې سره سمون خوري د لندن په نړیوال کنفرانس کې هم همدا موضوع رابرسېره کړه او د کنفرانس له ګډونوالویې چې د رسنیو په وینا له اویاوو څخه دډېرو هېوادونو،نړیوالومدني ټولنواودملګروملتونو استازیوپکې ګډون کړی وو پر همدې موضوع موافقه او دتائید نظرونه واخستل.



نړیوالې ټولنې دافغان دولت او بهرنیو ځواکونو له مخالفینو سره دسولې اوجوړ جاړي په اړه تر ډېره حده دولسمشر کرزي ستونزې ،غوښتنې او وړاندیزونه واورېدل او ددې پروسې دتطبیق لپاره یې دبودیجي دبرابرولو ترڅنګ دهراړخیزې مرستې ژمنه وکړه.

له مخالفینو سره دسولې ،جوړجاړي او تفاهم شعار دکرزي له خولې هر وخت اورېدل کېده په ځانګړي ډول هرځل به چې دوسلوالومخالفینو لخوا له کوم فشار سره مخ شو او یابه یې چېرې له ملي اشخاصو ،قومي مشرانو اوسوله خوښوونکیوجریاناتوسره وکتل نو همداشعار به یې په مداوجزر زمزمه کاوه ، خو ددې کار لپاره دنړیوالوموافقه او مرسته غوښتل او دادی اوس ددې پروسې دپرمخیون لپاره دکمېسیون دجوړولو اعلان دا په ډاګه کوي چې داځل دکرزي په خوله کلیشه اوتکراري شعار ندی ،بلکې عملاً یې دې نېك کارته ملاتړلې ده .

داچې کرزی دزړه له اخلاصه له مخالفینو سره سوله اودوستي غواړي نو لومړی ځل دی چې یوداسې کارته لاس غځوي چې دملت دقاطع اکثریت غوښتنه ده او له یوې کوچنۍ استثنې پرته ټول ملت یې ترشاه ولاړ دی.

اوس چې ښاغلی کرزی ددې پروسې لپاره جرګه جوړوي نوداښه او اړین کار دی خو داخبره ډېره مهمه ده چې ددې کمېسیون په ترکیب کې به څوك وي ،یاپه بله وینادکمېسیون غړي به څوك وي،دکوم فکر ،نظراو ایدیولوژۍ خاوندان به وي ،کوم سیاسي ماضي اوکوم سیاسي حال به لري ،دکوم جریان استازي به وي او .......

موږ چې دښاغلي کرزي ماضي ته ګورو نو هغه پدې ته ورته موضوعګانو کې ډېر محتاط دی ،تل یې افراطي سازش او کاذب مصلحتونه په پام کې نیولي دي او دسولې او تفاهم په څېر ډېر مهم مسائل یې هم سطحي بللي ،کرزی دې ته نه ګوري چې کوم کار څوك ښه کولی شي ، څوك یې ډېر وړاو تر عهدې یې ښه وتلی شي ،بلکې هڅه کوي چې په هرکمېسیون او هره چاره کې)) ملي انډول ))په پام کې ونیسي هغه کله کله پنبر په پیشو ساتي دبېلګې په توګه ډاکټرعبدالله هغه جریان ته منسوب سړی دی چې دا دولس کاله له طالبانو اواتلس کاله له حزب اسلامي سره جنګېږي او کلکه دښمني ورسره لري خوښاغلی کرزی دسیمه ییز امن جرګې ریاست چې موخه یې له له پاکستان او په ټوله کې له ټولو مخالفینو سره پخلاینه ده ته وسپاره ،آیاډېل عبدالله به له دومره دښمنیو او ترېګنیو سره رښتیا هم دزړه له اخلاصه له هغو طالبانوسره چې دامریکایانو پنځلس ټنیز بمونه یې هم پردوی کوچني ګڼل ،له هغه حزب اسلامي سره چې پخپلمنځیو جګړوکې یې شپېته زره کابل ښاریان وژل شوي او له هغه پاکستان سره چې هره ورځ یې پرضددسیسې جوړوي ، دطالبانو پر ملاتړ یې تورنوي سوله وغواړي ؟ همدالامل ووچې دسیمه ییز امن جرګې هڅې او لاسته راوړنې سپوتاژشوې .

اوس چې کرزی یوځل بیا له مخالفینو سره دسولې او سیاسي حل لپاره کمېسیون جوړوي نوپه کار ده چې یوځل بیا هغه سیاسي اشتباه تکرار نکړي داځل بایددکاذب مصلحت او دملي انډول ((طاغوت)) ته سر ټیټ نکړي .اوس حالات ډېر نازك دي ،ښاغلی کرزی باید پوه شي چې له مخالفینو سره دسولې موضوع چې اوس یوځل بیا توده شوې ده ،نه یواځې دافغانانو لپاره بلکې دټولې نړۍ لپاره برخلیك ټاکونکې ده نو داځل باید ډېر مسؤولانه او له تعمق څخه ډك چلند


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

وکړي او دې جرګې ته داسې اشخاص ورمعرفي کړي چې هغوی واقعاًپه هېوادکې سوله ارامي او امنيت غواړي ،ملي فکراوپرهېوادوالو زړه سوی ولري،دهېچا په وينو يې لاسونه سره نه وي .
ملي شتمني يې چورکړې نه وي ،په ملت کې منفورنه وي ،روښانه سياسي ماضي او حال ولري،سياسي او ملي نفوذ او اعتبار ولري ،ټولو خواووته دمنلو وړ وي ،په جرګو،مرکو ،ملي دودونواو رسم او رواج پوه وي ،داستدلال قوت ،دافهام اوتفهيم ځواك پکې وي ،هېڅ ډول مذهبي ،سيمه ييز ،ژبه ييز اوګوندي تعصب ونلري اوشخصيتونه يې جنجالي او متنازع نه وي.
داسې اشخاص کولی شي دافغانستان طوفان اخستې بېړۍ دنجات ساحل ته ورسوي ،له همدوۍ څخه هيله کېږي چې په سوله او جوړ جاړي کې مثبت او رغنده رول ولوبوي.
موږ باور لرو چې په افغانستان کې مېشت ټول قومونه همداسې ملي او منور اشخاص لري که ښاغلی کرزی خپل فورمول هرو مرو تطبيقوي او ملي اندول ساتي نو بيا دې له ټولو قومونو څخه همداډول اشخاص دې کمېسيون ته ورويېژني .
ښاغلي کرزي په خپله اته کلنه دوره کې په بېلابېلووختونو کې دبېلابېلو مناسبونو په خاطر سلګونه کمېسيونونه ټاکلي خو پايلې يې صفردي ،خدای دې وکړي چې هغه ناروغي دې جرګې ته هم سرايت ونکړي ددې کمېسيون کارونه،پايلې،هڅې ،لاسته راوړنې او وړاندې تګونه هره ورځ دميډياله لارې ولس اونړيوالوته ابلاغ شي اوکه داسې وشي نو ملت به خدای مکړه وروستۍ اسره او هيله هم له لاسه ورکړي.
دې ټکي ته هم پام په کار دی چې داکمېسيون بايد دسولې دپروسې لپاره دنړيوالو مرستې په ځای ولګوي، دا امانت خيانت نکړي او نړيوالو ته دقيقه ،رڼه ،پاکه اومطمئنه حسابي ورکړي ،ځکه چې که نړيوال پوه شي چې کم ترکمه دامنيت اوسولې په پروسه کې هم ددوی مرستې په امن کې ندي نو له شك پرته چې دډالروباران به پرې ودروي./پای/


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئوليت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نويسنده ميباشد، خواهشمنديم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بداريد.